
# ستا سو د له يوه ده
# (تا سو يو امت يي)

## أمتكم أمة واحدة

إعداد: قسم البحث والترجمة في
مركـز دعـوة الجالـيات بالجبيل
ترجمة: محمد نعيم بن أحمد شاه



مركز دعوة الجاليات بالجبيل
JUBAIL DA,WAH & GUIDANCE CENTER-K.S.A
(03) 3610077 Fax 3614506 1580 JUBAIL 31951
jubjalyat@mail.com
A/C NO in Rajhi bank-jubail (21/9)

NO الرقم 34

بشتو
BUSHTO

بسم الله الرحمن الرحيم

# مضبوط بنياد

الحمد لله رب العالمين، الرحمن الرحيم ، وصلى الله على خاتم أنبيائه محمد المبعوث بالهدى والحق المبين .

په داسي وخت کي الله ج محمد صلى الله عليه و سلم په پيغمبري سره راوليږه ، چه د پيغمبرانو سلسله بنده شوي وه، او خلك په ډيره لويه گمراهي کي اخته ووه ، هم دعقايد و په لحاظ او هم د اخلاقو په لحاظ سره ، نو الله ج په دغه پيغمبر سره هغه بنده گانو ته هدايت وکړه چه غوختنه ئي ، نو خلکو ته چه کله د دغي پيغمبر صلى الله عليه وسلم صدا قت په يقين سره معلوم شوه ، نو اطاعت او تابعداري ئي ورلـه شروع کړه ، ځکه چه محمد صلى الله عليه وسلم داسي هستي وه ، چه د ده قوم او مجتمع کله هم په ده باندي دروغ، خيانت، او بي عقلي، نه ؤه ثبوت کړي، د ده سيرت ټول د صداقت وفاداري، رحمت، او سخاوت نه ډك ؤو.

څلويښت کاله ئي په خپل قوم کي تير کړه لکن قوم ئي داسي يو صفت په ده کي پيدا نه کړه چه په هغوي بد ولگيږي ، تر دي چه الله ورته وحي راوليږله ، نو خپل قوم ته ئي دعوت ورکړه په داسي حال کي چه په خپله هم دهغي شي پابند ؤ چه کوم ته ئي خلك رابلل ، او چه کوم تکليف ورته په دغه لار کي رسيده نو په هغه ئي خائسته صبر کاوه ، او دائي يقين ؤ چه الله به ورته کاميابي ورکوي ، دين ئي الله لره خالص کړه ، او په ټولو پيغمبرانو ئي ايمان راوړه ، او هم ئي د عزت قائل ؤ ، لوست او ليکل ئي نه شوه کولي لکن ډير لوي او عزتمند کتاب ( قرآن کريم ) ئي راوړه ،

او ټولو پيريانو او انسانانو ته ئي چيلنج ورکړه : <u>{ چه دوي د دي قرآن په شان کتاب نه شي راوړي ، اگر چه بعض د بعضو مدد گار هم شي }</u> ( سورة بني اسرائيل ۸۸)، دده نبوت رشتيني شوه، او د نبوت علامي په کي دمخکي نه ښکاره معلوميدلي، او په ټولو لارو باندي د ده لار او منهج بالا شوه، او په ډير خايسته شريعت باندي ئي راتگ وکړه، داسي شريعت، چه د عقل احترام ته قائل دي، او د ټولو مصلحتونو ، اسانتيا، عدالت رعايت ئي کړي دي، او دانسان صحيح فطرت طبيعت سره موافق دي او هم ئي د دغي فطرت د صفائي اهتمام کړي دي، د دي وجه نه عقلمندو زړونو قبول کړه، او مضبوطي منگولي ئي پري ولگولي، او دخپل ژوند لار ئي وگر ځوله، او په ټولو حالاتو کي ئي مرجع وگرځوله، دغه کتاب حق دي او حق يقيني غالب دي، لکه څنگ چه الله تعالى فرمائي:<u>{ پس ته صبر کوه اي پيغمبر صلى الله عليه وسلم يقيني اخري کاميابي پرهيز گارانو لـه ده}</u> ( سورة هود ٤٩).

# مضبوط تعداو

بهترین تعلق د مؤمنانو او هغه کسانو په مابین کی چه د الله شریعت ئی د خپل ځان لپاره منهج او دین سره غوره کړی وی ، هغه دی چه د الله د محبت په بنا وی، او د هغه د دین د قائمولو په بنا وی لکه څنګ چه الله تعالی فرمائی: {او څوك چه دالله او پیغمبر او مؤمنانو سره دوستانه محبت کوی ، بیشکه د الله دله غالبه ده} (سورة المائده ٥٦).

او اسلام دغه د ورور ولی علاقه او ارتباط دمسلمان د عقیدی لپاره یو اصل ګرځولی دی ، الله ج فرمائی: { مؤمنان سره تږول ورونه دی ، پس اصلاح او صلحه وکړی د خپلو ورونو تر منځ} ( سورة حجرات ١٠)، او هم دا رنګ الله تعالی فرمائی: {او مؤمنان سړی او مؤمنانی ښځی بعض د بعض دوستان دی} سورة توبة ( ٧١)

او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی : (تاسی جنت ته تر هغی وخت پوری نه شی ننوتلی چه ایمان راوړی ، او تر هغه وخت پوری مؤمنان نه شی کیدلای چه یو بل سره محبت وکړی ، ایا زه تاسو ته داسی شی ونه ښایم چه کله پری تاسی عمل وکړی نو ستاسی مابین کی به محبت پیدا شی ؟ خپل منځ کی سلام رواج او عام کړی) امام مسلم دا حدیث نقل کړی دی.

او همدا رنګ نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی: (یو مسلمان دبل مسلمان ورور د ی، نه به پری ظلم کوی، نه به نی رسوا کوی، او نه به نی سیك کنی، او بیائی دری کرتی سینی ته اشاره وکړه او وئی ویل چه تقوی دلته ده، پوره دی د یو سړی لپاره دا شر چه خپل مسلمان ورور سپك کنی، د هر مسلمان په بل مسلمان باندی حرامه ده وینه دهغه مال، عزت او ناموس) متفق علیه.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو تشبیه په ورور ولی کی د یو غختلی او مضبوط دیوال سره ورکړی، او دیو جسد سره ئی مشابه کړی.

او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه دهغی لپاره یو رشتینی مثال ؤ ، د دی وجه نه الله ج د انصارو په باره کی فرمائی ، په هغه اخلاقو کی چه دوی د مهاجرینو سره کړی: { او هغه کسان چه ځای نی نیولی د اوسیدو په کور کی (مدینه منوره کی)، او ځای نی ورکړی دی ایمان ته ( په خپلو سینو کی) مخکی د راتلو دمهاجرینو نه، دوی مینه لری دهغی کسانو سره چه دوی ته هجرت کوی، دوی نه محسوسوی په خپلو زړونو کی څه تنګستیا (حسد) د هغه څه نه چه ورکړی شوی دی مهاجرو ته ، او غوره کوی (مخکی کوی) مهاجرین په خپلو ځانونو ، اګر که وی په دوی باندی تنګی فقر او حاجت} ( سورة حشر ٩ ).

# د مسلمانانو ښکاره او څرګند امتیاز

مسلمان یو داسی نوم دی چه دهیڅ چانه پټ نه دی، او الله ج دا نوم دمحمد صلی الله علیه وسلم د تابعدارو امتیانو لپاره غوره کړی دی، لکه خنګ چه الله تعالی فرمائی: { هغه مسمی کړی ئی مسلمانان مخکی د راتلو ( ددی قرآن نه ) او په دی ( قرآن کی ) هم } سورة حج ۷۸ .

او الله ج دا امت په لوی او عظیم الشان کتاب قرآن کریم باندی خاص کړه داسی کتاب چه نورو کتابو ته ئی ضرورت نه دی پریخی ، او د دوی لپاره ئی داسی قبله وګرځوله چه دالله په کورنو کی ډیر زیات مقدس کور دی ، چه هغه مسجد حرام دی ، چه دا ټول امت هغی کور ته د حج او عمری لپاره راځی .

او د دوی د لمانځه د راباللو لپاره الله تعالی بهترین ذکر مقرر کړه چه هغه اذان دی ، لکه څنګ چه امام بخاری او مسلم د عبد الله ابن عمر نه روایت کوی چه هغه فرمائی : ( کله چه مسلمانان مدینی ته راغله ، نو دوی به یو ځای راجمع کیدل ، او دلمانځه وخت ته به ئی انتظار کولو ، او اذان به ئی نه کو، نو دوی خپل منځ کی سره مشوره کوله چا په کی وویل چه د عیسایانو په شان جرس ( زنك ) به جوړ کړو دلمانځه لپاره ، او بعض وویل چه د یهودو په شان ښکر به جوړکړو ، نو عمر رضی الله عنه وویل چه یو کس نه لیږی چه اذان وکړی د لمانځه لپاره، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : ( ای بلاله اذان وکړه ) .

او د مسلمانانو لپاره په هره جمعه باندی یو تربیتی او تعبدی اجتماع وی ، هغه عظیم الشان ورځ چه الله پکی د انسانیت د پیدایښت شروع کړی ، او په دغه ورځ به الله ج دوباره خلك ژوندی کوی.

او هم دا رنګ دمسلمانانو لپاره په هر کال کی دوه اخترونه دی ، چه مسلمانان په دغه اخترونو کی لمونځونه کوی ، او دالله لوئی بیانوی او صدقی یکی کوی ، چه هغه وړوکی اختر دی چه د روژی نه روسته وی ، او لوی اختر چه یه ذالحجه کی دی .

لکن الله ج مسلمانان دی نه منع کړی دی ، چه د کافرانو سره، په خپلو عادتونو او د دین په نورو خصوصیاتو کی مشابهت وکړی ، لکه خنګ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم، فرمائی : (څوك چه د کوم قوم سره خپل ځان مشابه کړی دا هم دهغوی نه شوه ) ابو داؤد ، احمد.

# د الله په رسی باندی منګولی ولګوی

دا یو حقیقت دی چه د مسلمانانو په منځ کی اخوت اتحاد یواحی د الله په توحید باندی قرار نیولی شی ، او همدا راز چه په خپل منځ کی معاملات خالص دهغه د رضا لپاره شی، او داجر په امید باندی وی ، لکه څنګ چه الله ج د نیکانو په صفت کی فرمائی : { دوی ورکوی طعام سره دمحبت نه ، فقیر ، یتیم او بندی ته ، یقینا مونږ طعام درکوو تاسو ته د الله د رضا لپاره ، او مونږ ستاسو نه د دی بدله او شکر نه غواړو } سورة دهر ۸-۹.

او همدا راز الله تعالی فرمائی: { دی لپاره چه دوی عفوه وکړی او مخ تری واړوی، ایا تاسی نه خوښوی چه الله درته مغفرت وکړی، او الله ښښونکی او مهربان دی} سورة نور ۲۲.

او هر کله چه اختلاف یقینی راځی نو د هغی لپاره قانون او علاج ، دادی چه خپله فیصله د الله کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت ته وړاندی کړو ، الله تعالی فرمائی:{ ای مؤمنانو د الله او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اطاعت کوی، او دخپلو مشرانو اطاعت وکړی ، او که ستاسی په یوه مسئله کی اختلاف راغی نو هغه الله او پیغمبر ته واپس کړی ، که پی تاسو ایمان لرونکی په الله او ورځ د قیامت باندی ، دا ډیر غوره دی او ډیر ښه دی د عاقبت په لحاظ سره } . سورة نساء ۵۹.

د دی وجه نه امام ابو حنیفة، او امام شافعی رحمهما الله فرمائی:(چه کله صحیح حدیث تاسو ته میلاو شوه نو هغه زمونږ مذهب دی).

او په ټولو اختلافی مسئلو کی قرآن او سنت ته فیصله وړاندی کول لازم او واجب دی ، که هغه علمی مسائل وی ، او که نور قومی مسائل وی ، چه کوم په کور کلی او ټولنه کی پیښیږی .

او همدارنګ لوی سبب چه الله په هغی سره د مسلمانانو وحدت ، او اتحاد محفوظ ساتی ، هغه دا دی چه مؤمنان د خپل دین حفاظت وکړی ، په منلو د حکمونو د الله سره ، او په اجتناب سره د ټولو ناروا ؤ نه، او په نصرت د دین سره، او په دعوت ورکولو سره دغه دین ته.

او که په دی باندی ځان پوهه کول غواړی نو دالله په دی آیت کی تدبر او فکر وکړی : { او بعض دهغه کسانو نه چه وائی مونږ عیسایان یو ، واغست مونږ کلك لوظ د دوی نه ، نو هیر کړه دوی لویه برخه اخیستل له هغه شی چه دوی ته پری نصیحت شوی ؤ ، نو واچوله مونږ په منځ د دوی کی دوشمنی او کینه ، تر ورځ دقیامت پوری ، او زر به خبر

وركړي الله دوي ته په هغه كارونو باندي چه دوي كول }.
سورة مائده ١٤.
او رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امت د امر بالمعروف او نهي عن المنكر د پريخودو نه ويرولي دي ، دي لپاره چه الله زړونه د بعض په بعض سره ونه وهي ، لكه څنګ چه بني اسرا ئيل د دغي عذاب سره مخ شول ، هغه بني اسرائيل چه خلك ئي د ناروا نه نه منع كول.
او بيشكه نن زمانه كي د تولو نه لوى او خطرناك منكر او ناروا چه دمسلمانانو منځ كي وجود لري هغه شرك دى دالله سره ، كه هغه په غير اسلامى فيصله كى وى، اوكه د الله د د وشمنانو سره په دوستي كي وى ، او كه د دين په يو حكم پورى په مسخرى سره وى ، او يا په دين كى د يو داسى عبادت جوړول چه الله هغه نه وى مشرع كړى ، او يا دالله نه سوى نيكان خلك رابلل، او يا دهغوى په نامه قربانى كول، او يا ساحرانو ، كاهنانو او نجوميانو ته دعلاج په نيت ورتلل.
او بعض د لويو منكراتو او ناروا كارونو نه ، د الله فرضى حكمونه ضايع كول دى ، او خاصكر لمونځ او زكات چه الله ج د اسلام لپاره شرطونه ګرځولى دى ، لكه څنګ چه الله تعالى فرمائى : { كه دوي توبه او باسى او دلمانځه پابندي وكړى ، او زكاتونه وركړي نو دوي بيا ستاسي وروڼه دي په دين كي } سورة توبه ١١.
اوبعض د لويو ګناهو نو نه چه په معاشره كي رواج لرى ، د موسيقى وسايل ، نشه پيدا كونكى شيان ، زنا ، د زنانه ؤ بى سترى ، سود ، رشفت اخيستل ، دوكه ، دروغ ويل ، غيبت ، د مور او پلار نافرمانى ، صله رحمى ختمول ، او يا خپلو ښځو باندى ظلم كول دى .
او ددى ښكاره شاهد او مثال د جزيرة العرب حال دى دوه سوه كاله مخكى ، چه د شرك او نورو منكراتو نه ډكه وه ، ويره وه دوشمنى وه ، د يو بل نه نفرت ؤ ، تر دى چه الله ج د دغى ټولو د ختمولو لپاره امام محمد بن عبد الوهاب ، او امام محمد بن سعود رحمهما الله دونيا ته راوستل ، داسى اماما ن ، چه په خلكو كى ئى دالله شريعت او قانون نافذ كړه ، او ملك ئى د هر قسم ناروا او منكراتو نه صفا او پاك كړه ، نو دهغى په وجه ملك كى امن او هر قسم خير راغى .

و صلى الله على نبينا محمد ، وعلى آله و صحبه أجمعين